خیر الاصول

پښتو

فی حدیث الرسول صلی الله علیه وسلم

مؤلف

مخدوم العلماء مولانا خیر محمد صاحب
جالندهری رحمه الله

مع

رساله منظومه فارسی

د حضرت مولانا مفتی الٰهی بخش صاحب
کاندهلوی رحمه الله

ژباړن: مولانا حبیب الله درویش

جدید مکتبہ رشیدیہ

Scanned with CamScanner

Scanned with CamScanner

خیر الاصول

فی حدیث الرسول ﷺ

مؤلف

مخدوم العلماء مولانا خیر محمد صاحب
جالندهری رحمة الله علیه

مع

رساله منظومه فارسی

د حضرت مولانا مفتی الٰهی بخش صاحب
کاندهلوی رحمة الله علیه

ژباړن : مولا نا حبیب الله درویش فاضل جامعه امداد العلوم پېښور صدر

ناشر

جدید مکتبه رشیدیه

قصه خواني بازار محله جنګي پېښور

۰۹۱۲۵۸۰۰۷۴

مکتبه غوثیه مرحوم الحاج صاحبزاده صاحب
بشیر احمد
0707948258
عبد الصمد
01259

ټول حقوق محفوظ دي

کتاب : خیر الاصول فی حدیث الرسول

مؤلف : مخدوم العلماء حضرت مولانا خیرمحمد صاحب
جالندهري قدس سره

ژباړن : حبیب الله درویش آفریدي

تصحیح کونکي : مولانا محمد یعقوب نائل

زیراهتمام : مولانا سید محمد پروانی

داشاعت کال : ۲۰۱۴ بمطابق صفر المظفر ۱۴۳۶ هجري

ناشر

جدید مکتبه رشیدیه
قصه خواني بازار محله جنګي پېښور
۰۹۱۲۵۸۰۰۷۴

دکتاب ترلاسه کولوځایونه
اکوړه ختټك، پروان، کابل، جلال آباد،
لوګر، کندوز، قندهار، خوست، کوئټه، غزني بغلان

فهرست مضامین

مضمون	صفحه
تنبیهات	٤
خیر الاصول في حدیث الرسول ﷺ	٦
د اصول حدیث تعریف	٦
د اصول حدیث غایه	٦
د اصول حدیث موضوع	٦
د حدیث تعریف	۷
د حدیثو تقسیم	۷
حدیث په دوه قسمه دی : خبر متواتر، خبر واحد	۷
د خبر واحد اولنی تقسیم	۷
(۱) مرفوع (۲) موقوف (۳) مقطوع	۸
د خبر واحد دویم تقسیم	۸
(۱) مشهور : (۲) عزیز (۳) غریب	۸
د خبرواحد دریم تقسیم	۸
د خبرواحد څلورم تقسیم	۱۱
د خبر و احد پنځم تقسیم	۱۲
(۱) معنعن (۲) مسلسل	۱۲
د اداء صیغي	۱۲
په حدثني او اخبرني کي فرق	۱۲
د احادیثو د کتابونو بیان	۱۳
اولنی تقسیم	۱۳
دویم تقسیم	۱۵
د صحاح سته بیان	۱٦
د صحاح سته د امامانو مسلکونه	۱۷
د جرح او تعدیل بیان	۱۷
د تعدیل الفاظ	۱۸
د جرح الفاظ	۱۸
د جرح او تعدیل تقسیم	۱۹
(۱) مبهم او (۲) مفسر	۱۹

Scanned with CamScanner

د جرح او تعدیل منل او نه منل ۱۹
دجرح اوتعدیل شرطونه ۲۰
د هغومحدثینو نومونه چې په جرح کې متعنت دي ۲۰
د هغو محدثینو نومونه چې په جرح کې متشدد دي ۲۰
په جرح اوتعدیل کې تعارض ۲۱
یادونه ۲۱
ضمیمه ۲۲
شبه ۲۲
جواب ۲۲
د لیکوال لنډ تعارف ۲۳
اصول حدیث په فارسي نظم کې ۲۵
د حدیثو قسمونه په اعتبار د حذف د راویانو ۲۵
دحدیثو قسمونه د قوت او ضعف په لحاظ سره ۲۶
د حدیثو قسمونه په اعتبار د راویانو ۲۷
د صحابي او تابعي تعریف ۲۷
داخبرنا او حدثنا وغیره بیان ۲۸

تنبیهات

(۱) پدې رساله کې د اهل فن د معتبرو کتابونو نه مې د اصول حدیث څه اصطلاحات منتخب کړي او د هغې ترجمه اوترتیب مې کړی.

(۲) کتونکو ته د آسانتیا په خاطر د هر مضمون په آخر کې مې ددې ماخذ حواله بین القوسین ظاهره کړې ده.

(۳) هغه طالبان کوم چې د حدیثو ابتدایي کتابونه لوستل غواړي، دوی که دغه رساله یاده کړه؛ نو ډیره فایده به ورته ورسیږي.

(۴) ددې رسالې په آخره کې د اصول حدیث یوه فارسي رساله د نظم په شکل کې د حضرت مولانا مفتي الهی بخش رحمة الله علیه په لاس لیکل شوې ده تبرکاً او افادةً للطلبه مو دلته ملحق کړې ده.

مؤلف

۱۶ رمضان المبارک سـ۱۳۴۴ھ

خیر الاصول في حدیث الرسول ﷺ

بسمِ اللّٰہِ الرحمن الرحیم

الحمدُلِلّٰہِ وکفیٰ وسلامٌ علیٰ عبادہ الذین اصطفیٰ

اما بعد: د اصول حدیث یو څو اصطلاحات مختصر ډول سره ذکرکولی شي، الله ﷻ دي زما دا عمل قبول کړي او نوي شروع کونکو طالبانو ته دي دډېر الله ﷻ نفع او فایده ورسوي، آمین.

د اصول حدیث تعریف

اصول حدیث هغه علم دی چې د هغې په ذریعه د حدیثو احوال پېژندل کېږي.

د اصول حدیث غایه

د اصول حدیث غایه داده چې د حدیث احوال معلوم کړی شي او په مقبول حدیث باندې عمل وکړي او د غیر مقبول نه ځان وساتل شي.

د اصول حدیث موضوع

د اصول حدیث موضوع حدیثونه دي.

د حدیث تعریف

د حضور اکرم ﷺ، صحابه کرامو ﷺ او تابعینو رحمهم الله تعالی علیهم قول فعل او تقریر[1] ته حدیث ویلی شي؛ خو کله کله دېته خبر او اثر هم ویلی شي.

د حدیث تقسیم

حدیث په دوه قسمه دی: خبر متواتر، خبر واحد.

خبر متواتر: دا هغه حدیث دی د کوم چې روایت کونکي په هره زمانه کې دومره ډېر وي چې د هغو ټولو په دروغو باندې اتفاق کول عقل سلیم محال ګڼي.

خبرواحد: هغه حدیث ته وایي چې د هغه د راویانو تعداد ډېر نه وي.

بیا خبر واحد په مختلفو اعتباراتو سره په څو قسمه دي.

د خبر واحد اولنی تقسیم

خبر واحد د منتهی په اعتبار سره په درې قسمه دی.

---

[1] تقریر د رسول الله ﷺ دېته وایي: چې صحابي ﷺ د نبي اکرم ﷺ په مخکې یو کار کړی وي یا یې یوه خبره کړې وي او نبی اکرم ﷺ په هغه کار یا خبره باندې پوه شوی وي او هغه صحابي ﷺ یې نه وي منع کړی د هغه کار یا خبرې نه، بلکې خاموشي یې اختیار کړې وي او د هغه تصویب یې فرمایلی وي، دېته تقریر وایي، کذا فی مقدمة فتح الملهم، ص ١٠٧

(۱) مرفوع (۲) موقوف (۳) مقطوع

(۱) **مرفوع**: دا هغه حديث دی په کوم کې چې د رسول الله ﷺ قول، فعل، یا تقریر موجود وي.

(۲) **موقوف**: دا هغه حديث دی په کوم کې چې د صحابی رضی الله عنه قول، فعل، یا تقریر موجود وي.

(۳) **مقطوع**: دا هغه حديث دی په کوم کې چې د تابعي رحمه الله علیه قول، فعل، یا تقریر موجود وي.

د خبر واحد دویم تقسیم

خبر واحد د راویانو د عدد په اعتبار سره هم په دري قسمه دی.

(۱) مشهور: (۲) عزیز (۳) غریب

(۱) **مشهور**: هغه حديث دی چې د کوم راویان په هره زمانه کې له دریو نه کم نه وي.

(۲) **عزیز**: هغه حديث ته وایي چې د کوم راویان په هره زمانه کې له دوه وو نه کم نه وي.

(۳) **غریب**: هغه حديث ته وایي چې د هغه راوي یو وي.

د خبر واحد دریم تقسیم

خبر واحد د راویانو په اعتبار سره په شپاړس قسمه دی.

(۱) صحیح لذاته، (۲) حسن لذاته، (۳) ضعیف، (٤) صحیح لغیره، (۵)

حسن لغیره، (٦) موضوع، (۷) متروک، (۸) شاذ، (۹) محفوظ، (۱۰) منکر، (۱۱) معروف، (۱۲) معلل، (۱۳) مضطرب، (١٤) مقلوب، (۱۵) مصحف، (۱٦) مدرج

(۱) **صحیح لذاته**: دا هغه حديث دی چې ددې ټول راویان عادل، کامل الضبط او ددې سند متصل وي، د معلل او شاذ کېدو نه محفوظ وي.

(۲) **حسن لذاته**: دا هغه حديث دی چې د هغې په راوي کې صرف ضبط ناقص وي پاتې ټول شرطونه د صحیح لذاته پدیکې موجود وي.

(۳) **ضعیف**: داهغه حديث دی چې پدیکې د حسن او صحیح حديث شرطونه موجود نه وي.

(۴) **صحیح لغیره**: هغه حسن لذاته ته وایي چې د هغه سندونه متعدد وي.

(۵) **حسن لغیره**: هغه ضعیف حديث ته وایي چې د هغه سندونه متعدد وي.

(۶) **موضوع**: دا هغه حديث دی چې ددې په راوي باندې په احادیثو کې د دروغو ویلو طعن موجود وي.

(۷) **متروک**: دا هغه حديث دی چې د هغه راوي متهم بالکذب وي یا هغه روایت د قواعدو معلومه وو فی الدین نه مخالف وي.

Scanned with CamScanner

(۸) **شاذ**: دا هغه حدیث دی چې د هغه راوي خو په خپله ثقه وي لیکن د داسې جماعت کثیره مخالفت کوي چې دده څخه زیات ثقه وي.

(۹) **محفوظ**: دا هغه حدیث دی کوم چې د شاذ په مقابل کې وي.

(۱۰) **منکر**: دا هغه حدیث دی چې ددې راوي ضعیف هم وي او د ثقاتو د جماعت مخالفت هم کوي.

(۱۱) **معروف**: دا هغه حدیث دی چې د منکر په مقابل کې وي.

(۱۲) **معلل**: دا هغه حدیث دی چې پدیکې داسې پټ علت پروت وي چې د حدیث په صحت باندې نقصان راولي، ددې علت معلومول د هر چا کار نه دی، صرف د ماهر فن کار دی.

(۱۳) **مضطرب**: دا هغه حدیث دی چې د هغه په سند یا متن کې داسې اختلاف وي چې پدیکې ترجیح یا تطبیق ناممکن وي.

(۱۴) **مقلوب**: دا هغه حدیث دی چې پدیکې په هېره سره په متن یا سند کې تقدیم او تاخیر راغلی وي، یعنې کوم لفظ چې مقدم وي هغه مؤخر شوی وي او کوم چې مؤخر وي هغه مقدم شوی وي یا یې په هېره سره د یو راوي په ځای بل راوي ذکر کړی وي.

(۱۵) **مصحف**: دا هغه حدیث دی چې د جملې الفاظ یې پوره وي لیکن د نقطو، حرکاتو او سکناتو تغیر په وجه غلطي پکې راغلې وي (محرف هم ورته وایي).

(۱۶) **مدرج**: دا هغه حدیث دی چې ددې په کوم عبارت کې راوي د خپل ځان نه څه خبره ځای کړې وي.

د خبر واحد څلورم تقسیم

خبر واحد د راوي د ذکر کولو او نه ذکر کولو په اعتبار سره په اووه قسمه دی: (۱) **متصل**، (۲) **مسند**، (۳) **منقطع**، (۴) **معلق**، (۵) **معضل**، (۶) **مرسل**، (۷) **مدلس**.

(۱) **متصل**: هغه حدیث ته وایي چې ددې په سند کې ټول راویان ذکر شوي وي.

(۲) **مسند**: هغه حدیث ته وایي چې ددې سند تر رسول الله ﷺ پورې رسېدلی وي.

(۳) **منقطع**: هغه حدیث ته وایي چې د هغه سند متصل نه وي، بلکې د هغه راوي یو نه یو ځای کې نه وي ذکر شوی.

(۴) **معلق**: هغه حدیث ته وایي چې د سند په شروع کې یې یو راوي یا ډېر راویان پرېښودل شوي وي.

(۵) **معضل**: هغه حدیث ته وایي چې د سند په مینځ کې یې راوي پرېښودل شوی وي یا په سند کې د یو نه زیات راویان پرلپسې پرېښودل شوي وي.

(۶) **مرسل**: هغه حدیث ته وایي چې د هغه د سند په آخر کې راوي پرېښودل شوی وي.

(۷) **مدلس**: هغه حدیث ته وایي چې راوي یې د خپل عادت سره سم د خپل استاذ یا د هغه د استاذ نوم نه ذکر کوي.

Scanned with CamScanner

د خبر واحد پنځم تقسیم

خبر واحد د صیغې په اعتبار سره په دوه قسم دی.

(۱) **معنعن** (۲) **مسلسل**

(۱) معنعن: هغه حدیث ته وایي چې په سند کې یې لفظ د عَنْ راغلی وي او د دې ته عن عن هم ویل کیږي.

(۲) مسلسل: هغه حدیث ته وایي چې په سند کې یې د اداء صیغې یا د راویانو صفات او حالات ټول په یو شان بیان شوي وي.

د اداء صیغې

محدثین چې کله حدیث بیانوي؛ نو په لاندې لیکل شوي الفاظو کې یو لفظ خامخا استعمالوي.

(۱) حدثني، (۲) اخبرني، (۳) انبأني، (۴) حدثنا، (۵) اخبرنا (۶) انبأنا (۷) قرأت (۸) قال لی فلان (۹) ذکر لي فلان (۱۰) روی لی فلان (۱۱) کتب الی فلان (۱۲) عن فلان (۱۳) قال فلان (۱۴) ذکرفلان، (۱۵) روی فلان، (۱۶) کتب فلان.

په حدثني او اخبرني کې فرق

د متقدمینو په نزد دا دواړه الفاظ مترادف دي او د متأخرینو په نزد پدې دواړو کې فرق دی او هغه داسې چې که استاذ حدیث وایي او یو شاګرد یې اوري؛ نو پدې صورت کې به

حدثني ویل کیږي او که ډیر شاګردان یې اوري؛ نو بیا حدثنا ویل کیږي او که شاګرد حدیث وایي استاذ یې اوري؛ نو که یو شاګرد یې اوري اخبرني او که ډیر شاګردان یې اوري؛ نو بیا اخبرنا ویل کیږي. (عمدة الاصول)

د احادیثو د کتابونو بیان

د احادیثو ټول کتابونه په دوه قسمه دي.

اولنی تقسیم

د احادیثو کتابونه د وضع او د مسائلو د ترتیب په لحاظ سره په نهه قسمه دي.

(۱) **جامع**، (۲) **سنن**، (۳) **مسند**، (٤) **معجم**، (٥) **جزء**، (٦) **مفرد**، (۷) **غریب**، (۸) **مستخرج**، (۹) **مستدرک**

(۱) جامع: هغه کتاب ته وایي په کوم کې چې تفسیر، عقاید، آداب، احکام، مناقب، سیر، فتن، علامات قیامت، وغیره د هر قسم مسئلو احادیث پکښې موجود وي. لکه چې ویل شوي:

سیر آداب وتفسیر وعقائد فتن احکام واشراط ومناقب

لکه بخاري شریف او ترمذي شریف. (عجاله نافعه ص ۱۴ عرف الشذي)

Scanned with CamScanner

(۲) سنن: د احادیثو هغه کتاب ته وایي په کوم کې چې احکامو والا احادیث د فقهي بابونو په ترتیب بیان شوي وي لکه سنن ابو داود، سنن نسائی او سنن ابن ماجه.

(۳) مسند: دا د احادیثو هغه کتاب دی په کوم کې چې د صحابه کرامو ﷺ ترتیب رتبي یا په ترتیب د حروف هجاء یا د تقدم او تاخر اسلامي په لحاظ سره پکې احادیث ذکر وي لکه مسند احمد او مسند دارمي.

(٤) معجم: د احادیثو هغه کتاب دی په کوم کې چې د احادیثو ترتیب د استاذانو د ترتیب په لحاظ سره پکې ذکر شوي وي. لکه معجم طبراني.

(۵) جزء: د احادیثو هغه کتاب دی په کوم کې چې صرف د یوې مسئلې احادیث جمع شوي وي. لکه: جزء رفع الیدین للبخاري رحمه الله او جزء القراءة للبیهقي رحمه الله.

(٦) مفرد: د احادیثو هغه کتاب دی په کوم کې چې صرف د یو کس ټول روایات ذکر شوي وي.

(۷) غریب: د احادیثو هغه کتاب دی په کوم کې چې د یو محدث متفردات د یو شیخ نه نقل شوي وي.

(۸) مستخرج: د احادیثو هغه کتاب دی په کوم کې چې د بل کتاب د حدیثونو سندونه ذکر شوي وي لکه مستخرج د ابوعوانه.

(۹) مستدرک: د احادیثو هغه کتاب دی په کوم کې چې د بل کتاب د کېښودل شوو شرطونو سره سم نور حدیثونه راوړي وي او بشپړ کړي یې وي. لکه مستدرك د حاکم. (الحطه فی ذکر الصحاح السته)

دویم تقسیم

د احادیثو کتابونه د منلو او نه منلو په اعتبار سره په پنځه قسمه دي:

اولني قسم: هغه کتابونه دي چې په هغې کې ټول احادیث صحیح وي، لکه مؤطا امام مالك، صحیح البخاري، صحیح مسلم، صحیح ابن حبان، صحیح حاکم، مختاره ضیاء مقدسي، صحیح ابن خزیمه، صحیح ابوعوانه، صحیح ابن سکن او منتقي ابن جارود.

دویم قسم: هغه کتابونه دي، په کومو کې چې صحیح، حسن، ضعیف، هرقسم احادیث پکې موجود وي؛ خو ټول د احتجاج وړ وي، ځکه چې پدیکې کوم ضعیف احادیث موجود دي هغه د حسن په درجه کې دي، لکه سنن ابو داود، جامع ترمذي، سنن نسائي او مسند احمد.

دریم قسم: هغه کتابونه دي په کومو کې چې حسن، صالح او منکر هر قسم حدیثونه موجود وي لکه سنن ابن ماجه، مسند طیالسي، زیادات ابن احمدبن حنبل، مسند عبد الرزاق، مسند سعید بن منصور، مصنف ابی بکر بن ابي شیبه، مسند ابو یعلی

موصلي، مسند بزار، مسند ابن جرير، تهذيب ابن جرير، تفسير ابن جرير، تاريخ ابن مردويه، تفسير ابن مردويه، د طبراني معجم كبير، معجم صغير، معجم اوسط، سنن دارقطني، غرائب دارقطني، حليه ابى نعيم، د بيهقي سنن او شعب الايمان.

څلورم قسم: هغه كتابونه دي په كوموكي چې ټول ضعيف حديثونه وي، الا ماشاءالله، لكه نوادر الاصول، حكيم ترمذي، تاريخ الخلفاء، تاريخ ابن نجار، مسند الفردوس ديلمي، كتاب الضعفاء عقيلي، كامل ابن عدي، تاريخ خطيب بغدادي، تاريخ ابن عساكر.

پنځم قسم: هغه كتابونه دي په كومو كې چې ټول موضوعي حديثونه وي، لكه موضوعات ابن جوزي، موضوعات شيخ محمد طاهر نهرواني او داسې نور.

(رساله فيما يجب حفظه للناظر مؤلفه حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمة الله عليه)

د صحاح سته بيان

صحاح سته نه مراد مشهور شپږ كتابونه دي، (۱) صحيح البخاري، (۲) صحيح مسلم، (۳) جامع ترمذي، (۴) سنن نسائي، (۵) سنن ابو داود او (۶) سنن ابن ماجه، ځينې محدثين د ابن ماجه په ځاى مؤطا امام مالك او ځينې مسند دارمي پكې شماري او دې شپږو كتابونو ته صحاح ويل تغليباً دي، ځكه صحيح خو

صرف بخاري او مسلم دي. (كذا فى مقدمة المشكوة عجاله نافعه)

د صحاح سته خپل مابين كې مرتبه

اوله مرتبه د صحيح بخاري ده، دويمه مرتبه د صحيح مسلم ده، دريمه د ابوداود، څلورمه د نسائي، پنځمه د ترمذي او شپږمه د ابن ماجه ده.

د صحاح سته د امامانو مسلكونه

امام بخاري رحمة الله عليه مجتهد وو (نافع كبير كشف الحجاب) يا شافعي مسلك والا وو، (طبقات شافعيه، جلد ۲ ص ۲ الحطه ص ۱۲۱) امام مسلم رحمة الله عليه شافعي مسلك والا وو. (اليانع الجني ص ۴۹) امام ابوداود رحمة الله عليه حنبلي مسلك والا وو، (الحطه ص ۱۲۵) يا شافعي مسلك والا وو، (طبقات شافعيه جلد ۲ ص ۴۸) امام نسائي رحمة الله عليه شافعي مسلك وو، (الحطه ص ۱۲۷) امام ترمذي رحمة الله عليه او ابن ماجه رحمة الله عليه شافعي مسلكي وو. (عرف الشذي)

د جرح او تعديل بيان

كله چې محدثين د يو راوي توثيق او تعديل بيانوي؛ نو په ډيرو طريقوسره مختلف الفاظ استعمالوي، ځينې داسې الف دي چې په توثيق كې اعلى درجې والا وي، ځينې متوسط ځينې ادنى، دغه ډول د جرح الفاظ هم دي، چې ځينې يې

ډیراوچت دي، ځیني يې متوسط او ځیني يې ادنیٰ، لاندې به مونږ ټول الفاظ د اعلی نه ترادنیٰ پورې په ترتیب سره ذکر کوو

د تعدیل الفاظ

(۱) ثبت حجة، (۲) ثبت حافظ، (۳) ثقة متقن، (۴) ثقه ثبت، (۵) ثقة ثقة، (۶) ثقة، (۷) صدوق، (۸) لاباس به، (۹) لیس به بأس، (۱۰) محله الصدق، (۱۱) جید الحدیث، (۱۲) صالح الحدیث، (۱۳) شیخ وسط، (۱۴) شیخ حسن الحدیث، (۱۵) صدوق انشاءالله، (۱۶) صویلح وغیرها.

د جرح الفاظ

(۱) دجال کذاب، (۲) وضاع یضع الحدیث، (۳) متهم بالکذب، (۴) متفق علی ترکه، (۵) متروك، (۶) لیس بثقة، (۷) سکتوا عنه، (۸) ذاهب الحدیث، (۹) فیه نظر، (۱۰) هالك، (۱۱) ساقط، (۱۲) واه بمرة، (۱۳) لیس بشيء، (۱۴) ضعیف جدا، (۱۵) ضعفوه، (۱۶) ضعیف واه، (۱۷) یضعف، (۱۸) فیه ضعف، (۱۹) قد ضعف، (۲۰) لیس بالقوی، (۲۱) لیس بحجة، (۲۲) لیس بذالك، (۲۳) یعرف وینکر، (۲۴) فیه مقال، (۲۵) تکلم فیه، (۲۶) لین، (۲۷) سیئ الحفظ، (۲۸) لایحتج به، (۲۹) اختلف فیه، (۳۰) صدوق لکنه مبتدع، وغیرها (دیباچه میزان الاعتدال)

د جرح او تعدیل تقسیم

جرح او تعدیل هر یو په دوه قسمه دي.

(۱) مبهم او (۲) مفسر:

جرح او تعدیل مبهم: دا هغه دي چې په هغې کې کوم سبب د جرحي او تعدیل په راوي کې مذکور نه وي.

جرح او تعدیل مفسر: دا هغه ده چې د جرحي او تعدیل سبب په راوي کې مذکور وي.

د جرح او تعدیل منل او نه منل

جرح مفسر او تعدیل مفسر دواړه بالاتفاق قبول دي؛ خو جرح مبهم او تعدیل مبهم په مقبول کېدو کې اګر که ځیني عالمان اختلاف لري، لیکن صحیح خبره داده چې جرح مبهم بالکل نه ده مقبوله او تعدیل مبهم مقبول دی، دغه مذهب د امام بخاري رحمة الله علیه، امام مسلم رحمة الله علیه، امام ترمذي رحمة الله علیه، امام ابوداود رحمة الله علیه، امام نسائي رحمة الله علیه، ابن ماجه رحمة الله علیه د نورو جمهورو محدثینو او حنفي فقهاؤ مذهب دی.

Scanned with CamScanner

د جرح او تعدیل شرطونه

د جرح مفسر او تعدیل مفسر مقبولېدو لپاره اتفاقي شرطونه دادي چې جرح او تعدیل کونکي به د لاندې صفتونو څښتنان وي.

علم، تقوی، پرهېزګاري، صدق، عدم تعصب، د جرح او تعدیل اسبابو پېژندنه، او خاص جرح مفسر د مقبولېدو لپاره زیاتي شرط دادی چې جرح کونکی به غیر متعصب سره سره متعنت او متشدد هم نه وي.

د هغه محدثینو نمونه کوم چې په جرح کې متعصب دي.

دارقطني او خطیب بغدادي.

د هغو محدثینو نمونه چې په جرح کې متعنت دي

ابن جوزي، عمر ابن بدر الموصلي، رضي صنعاني لغوي، جوزقاني مؤلف کتاب الاباطل. شیخ ابن تیمیه حراني، مجدد الدین لغوی د قاموس مؤلف.

د هغو محدثینو نمونه چې په جرح کې متشدد دي.

ابو حاتم رحمة الله علیه، نسائي رحمة الله علیه، ابن معین رحمة الله علیه، ابن قطان رحمة الله علیه، یحیي قطان رحمة الله علیه او ابن حبان رحمة الله علیه.

په جرح او تعدیل کې تعارض

په یو راوي کې د جرح او تعدیل د تعارض څلور صورتونه دي، جرح مبهم او تعدیل مبهم، جرح مبهم او تعدیل مفسر، جرح مفسر او تعدیل مبهم، جرح مفسر او تعدیل مفسر.

په اولني او دویم صورت کې جرح غیر معتبر او تعدیل معتبر دی، دریم او څلورم صورت کې جرح معتبر او تعدیل غیر معتبر دی؛ خو په شرط د دې چې هغه جرح مفسر د داسې کس نه نه وي صادره شوې چې په جرح کولو کې متعصب یا متشدد یا متعنت شمارل شوی وي.

یادونه

د امام الائمه سراج الاسلام امامنا الاعظم حضرت امام ابو حنیفة رحمة الله علیه په اړه چې کومه جرح د ځینو مخالفینو په کتابونو کې لیکل شوې ده، هغه هیڅکله هم د منلو وړ نه ده، ځکه چې د امام صاحب رحمة الله علیه په باره کې تعدیل خو اظهر من الشمس دی، پاتې شوه جرحه نو د ځینو محدثینو جرح مبهمه ده او ځیني جارحین په خپله متعصب متشدد او متعنت دي، او مخکې دا خبره ذکر شوه، چې داسې جرحه د تعدیل په مقابله کې هیڅکله هم قبوله نه ده، (**الرفع والتکمیل فی الجرح والتعدیل**)

ضمیمه

شبه: کوم خلک چې د احنافو سره مینه نه لري بلکې کرکه او عناد ورسره لري هغوی دا نیوکه کوي چې شیخ عبد القادر جیلاني رحمة الله علیه په غنیة الطالبین کې د احنافو ډله په فرقه ضاله مرجیه سره نامولې ده.

جواب: ددې سوال د تفصیلي جواب لپاره رساله (الرفع والتکمیل) مؤلف حضرت مولانا عبد الحئ لکهنوي رحمة الله علیه ص ۲۵ نه تر ۲۸ مطالعه کول پوره دي، البته ددې اجمالي جواب دادی چې مراد د شیخ رحمة الله علیه د غسانیه ډله ده، چې د هغې بنیادګر غسان بن ابان کوفي دی، کوم چې په اصولو کې د فرقه ناجیه هم خیال او معتقد دی او په فروعو کې د حضرت امام ابو حنیفة رحمة الله علیه د اتباع کولو دعوه دار وو او ځان ته به یې حنفي ویل، لکه څنګه چې هغوی په اصولو کې د ارجاء عقیدې درلودلو له امله د اهل سنت والجماعت د ډلې نه خارج او د فرقه مرجیه ډله کې داخل دي، لیکن بیا هم دوی ځان په حنفي لقب سره مشهور کړو؛ نو ځکه شیخ رحمة الله علیه اصولي اختلاف بیان کړو او ددې فرقه ضاله یادونه یې د دوی په مشهور لقب سره وکړه، لکه څنګه چې دوی رحمة الله علیه لیکي: **واما الحنفية فهم اصحاب ابي حنيفة النعمان بن ثابت زعموا ان الايمان هو المعرفة والاقرار بالله ورسوله الخ**. کنه نو کوم خلک چې د اهل سنت والجماعت په اصولو او فروعو باندې د حضرت امام

اعظم رحمة الله علیه متبع او مقلد دي دوی ته څنګه شیخ صاحب رحمة الله علیه بد ویلي شي، چې په کوم عزت او احترام سره د نورو مسلکونو د امامانو نومونه ذکر کوي دغه شان د امام صاحب نوم هم په قدر او احترام سره ذکر کوي، لکه د سهار د لمانځه په باره کې فرمايي چې: **وقال الامام ابو حنيفة الاسفار افضل.**

فقط

احقر خیر محمد جالندهري عفا الله عنه

۱۳ جمادي الاولي ۱۳۵۳ هـ

د لیکوال لنډ تعارف

مولانا خیر محمد جالندهري رحمه الله تعالی په ۱۳۱۳ هجري کې په هندوستان کې د جالندهر په نوم ښار کې پیدا شوی دی، لومړنی زده کړه یې د رشیدیه په نوم یوه جامعه کې تر لاسه کړې دي، بیا په ۱۹۰۷ میلادي د راپیور جامعه رشیدیه ته لاړ، هلته یې د وخت د مشهورو نومیالو عالمانو څخه د فقهي، اصولو، صرف، نحو، منطق او فلسفي علوم تر لاسه کړل، بیا ددېنه وروسته د بریل سیمې ته لاړ او هلته یې د مولانا محمد یاسین سره په اشاعت العلوم مدرسه کې د حدیثو مبارکو لویه دوره پای ته ورسول او د دار العلوم دیوبند د مهتمم مولانا حافظ محمد احمد په لاس یې پګړۍ وتړل، د لوړ استعداد له امله په همدې مدرسه کې د حضرت مهتمم له لوري مدرس وټاکل شو، په ۱۳۴۲ هجري کې د

حضرت مولانا حکيم الامت اشرف علي تهانوي رحمه الله څخه يې بيعت وکړ ، يو کال وروسته ورته حضرت تهانوي صاحب د خلافت پګړۍ ور په سر کړه؛ نوموړی ډېر متقي او پرهېزګاره انسان وو، ددې له امله به حضرت تهانوي صاحب رحمه الله تعالی په ډېرو کارونو کې دده سره مشوره کوله، په ۱۳۴۹ هجري کې يې په جالندهر کې د خيرالمدارس په نوم د يوې مدرسې بنياد کېښود ، د پاکستان د وېش وروسته يې په همدې نوم په ملتان کې يوه بله مدرسه جوړه کړه چې د همدې مدرسې جوړ شوی نصاب (وفاق المدارس) د پاکستان په نورو مدرسو کې هم پلی شو، مفتي محمود رحمه الله او دده په څېر د هېواد نامتو عالمان دده شاګردان دي، دا چې ده ټول عمر د احاديثو په درس کې تېر کړي؛ نو دده ليکل شوي آثار ډېر کم دي چې يو يې پکې خيرالاصول في حديث الرسول دی، ددې کتاب په اړه مولانا حکيم الامت اشرف علي تهانوي رحمه الله تعالی د وصيت په توګه ليکي:

ددې لپاره چې ددې نوموړي کتاب نه د حديثو د کتابونو ابتدايي طالبان ګټه واخلي بايد دا کتاب د مدرسو په نصاب کې ومنل شي.

نوموړي د ډېرو دينو خدمتونو وروسته د شعبان په شلمه نېټه په ۱۳۹۰ هجري کې د ناروغۍ له امله ددې فاني دنيا نه کوچ وکړ.

انالله وانا اليه راجعون.

اصول حديث په فارسي نظم کې

د مولانا مفتي الهي بخش کاندهلوي صاحب له طرفه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

بحمد خدا خالق جز وکل	زبان را کنم تازه از برگ گل
بنام محمد که پیغمبر ست	سرایم سخن را که او رهبر ست
بیان احادیث واقسام او	به پیش کنم از دل وجان شنو
حدیث آنچه مروی ز پیغامبر ست	دگر قول یا فعل و تقریر هست
همین هر سه ز اصحاب واز تابعی	حدیث ست اشهر اثر بشنوی

د حديثو قسمونه په اعتبار د حذف د راويانو

روایت اگر تا پیمبر رسد	اورا نام مرفوع شد اے سند
وگر منتهی شد بر تابعی	بود نام مقطوعش اے متقی
به موقوف و مقطوع نام اثر	نمایند اطلاق اہل ہنر
کسے نیست گر حذف از راویان	بود نام او متصل بے گمان
چون از در میانش کسے حذف شد واگر از مبادی کن حذف نام	پس از منقطع گفتن اش نیست بد معلق بخوانش ای ای شاد کام
چو تابعی ہست واصحاب نیست	سند مرسل اور ابدان وبایست
وگر از سند چند راوی بری	ولے پے بہ پے معضل ست اے جری
وگر بے توالی رود منقطع	شماری ہم آن را بشو مطلع

د حدیثو قسمونه د قوت او ضعف په لحاظ سره

صحیح و حسن یاد داری ضرور	کہ روشن کند خاطرت راز نور
اگر راویش عدل و ضابط بود	سند متصل تا پیامبر رود
صحیحش بخوانند اصحاب فن	دو قسم اش بود هم شنواین سخن
شروطش اگر جمله کامل بود	صحیحش لذاته شمردن سزد
اگر ضبط او تام نبود وے	شدش جبر نقصان ز دیگر کسے
صحیحش لغیره نهادند نام	والا حسن هست ذاتی مدام
ضعیف از شود ضبط او از طریق	حسن آن لغیره شود اے شفیق
ضعیف آن کہ راوی بود ست ظن	ندارد شروط صحیح و حسن
ز شرطش شود جمله یا بعض دور	بضبط و عدالت نماید قصور
اگر بدعت و فسق و کذب اندر وست	ضعیف این حدیث ار بدانی نکوست
وز وگشت منکر معلل ازو	وگر شاذ اے طالب نیک خو
مخالف ثقه گر شود باثقات	و راوی ثقه هست او شاذ ذات
ثقه راوی از نیست منکر بود	بر و اعتماد تو کمتر بود
وگر هست در راوی اسباب قدح	معلل بخوانش مکن هیچ مدح
مقابل به معروف منکر بود	بدان اصطلاحے کہ نافع شود
بکذب است گر راویش متهم	اورا زود موضوع دانی علم
چو دانستن وضع دشوار هست	مناطش بر کذب راوی شد ست

د حدیثو قسمونه په اعتبار د راویا نو

قواعد ضروری دین را خلاف	روایت بداں گشت متروک صاف
صحیح کہ راویش یک دان غریب	وگردد، عزیزش بدان اے لبیب
زیادہ گر از دوی ست مشهور دان	بہ بخشد یقین گر تواتر بدان !
صحیح و غریب این شود جمع گر	غریب ست در معنی شاذ گر
اگر هر دو راوی موافق بود !	متابع بدانیش بی هیچ رد
ولیکن متابع بشرطے بدان	کہ مروی هم از یک صحابی بدان
همین شرط در متفق شد عزیز	بخاری چو مسلم کہ آورد نیز
اگر متفق دو صحابی بود	بگو شاهد و اعتبار اے سند
بلفظ و بمعنی شد از اتفاق	ورا مثله گوید اهل وفاق
وگر معنوی شد توافق درو	در آں نحوہ بی تردد بگو
کند ترمذی این حسن را بیان	سلیم از شذوذ و نکارت شد آں
ولے بعضی افراد را او حسن	بگفت ست والله اعلم بفن

د صحابي او تابعي تعریف

بایماں لقائے نبی هر کہ کرد	و مرده بایماں صحابی ست فرد
اگر دید اصحاب را هم چنین	ورا تابعی گفته اهل یقین

Scanned with CamScanner

داخبرنا او حدثنا وغیره بیان

زاخبار و تحدیث خواہی نشان	یکے ہست نزدیک پیشنیان
چہ حدثنا وچہ اخبرنا	چہ انبئنا وچہ نبئنا
ہمہ رایک رشتہ سفتند وبس	نکردند در فرق چندان ہوس
کسانیکہ زیشان مؤخر شدند	بتحقیق دین کوس سبقت زدند
نمودند تقریر فرق آن چنان	گہرہا فشاندند بر مردمان
کہ استاذ خواند بتلمیذ گر	پس آنست تحدیث اے معتبر
چو تلمیذ خواند باستاذ خود	بلاریب انباء واخبار شد

تمت بالخیر

بندہ ناچیز حبیب الله درویش آفریدي.

تلخیص الانوار

نور الانوار

مؤلف

حضرت مولانا مفتی عبدالغفور عفی عنہ

استاذ جامعہ بنوریہ، سائٹ کراچی

مترجم

مولوی محمد محسن قریشی

ناشر

جدید مکتبہ رشیدیہ

091-2580074

قصہ خوانی بازار محلہ جنگی پشاور

Scanned with CamScanner

د ښځو
جدید مسائل

(۱) د ښځو د تعلیم شرعي احکام

(۲) د ښځو د جامو او ډول سنګار شرعي احکام

(۳) د ښځو د مانځه ضروري مسائل

تالیف

جناب مولانا مفتی **احسان اللہ** شائق عفی عنہ

استاذ ومعین مفتی جامعة الرشید کراچی.

ژباړه مولانا برهان الدین صدیقی

جدید

مکتبہ رشیدیہ

قصہ خوانی بازار محلہ جنگی پشاور 091-2580074

د ابتدائي طالبانو لپاره د تقرير د صلاحيت

پیدا کولو زبردسته تحفه

د انجمن تقريرونه

مؤلف

ابن جابر

فاضل جامعه فاروقیه کراچی

ترجمه کونکي

نیک زاده حقانی

فاضل دارالعلوم حقانیه اکوره ختک

جدید

مکتبہ رشیدیہ

قصہ خوانی بازار محلہ جنگی پشاور 091-2580074

اعاد ذکر نعمان اللنا فان ذکرہ هو المسك ما کررته یتضوع

دامامِ ابو حنیفه رحمة الله علیه دفاع

تالیف

مولانا عبد القیوم حقانی

ژباړن:

محمد سلیم سواتی

القاسم اکیڈمی ۔ جامعه ابوهریره
برانچ پوسٹ آفس خالق آباد ضلع نوشهره سرحد پاکستان

مکتبہ رشیدیہ
جی ٹی روڈ سردار پلازه بیسمنٹ اکوڑه خٹک 0344-9084693

Scanned with CamScanner